# لوی ماموریت

## مونږ ټول شریک یو

### د پیل ټکی

- ایا په یاد لرئ چې په شپږم ګام کې مو شاګردي څنګه تشریح کړه؟
- د یوې لارې د مثال په ویلوووایئ چې په دې هفته کې څنګه کولای شئ د عیسی څخه پیروي وکړئ؟

### بحث او خبرې

- په دې دوران کې چې په زده کولو بوخت یئ ترڅو د عیسی څخه پیروي وکړئ، تاسو په خپل ځان یا په نورو کې کومو بدلونونو ته پام وشو؟
- په کومو لارو کولای شئ د هغه د پاچاهی په خدمت کې برخه واخلئ؟

### کلمه وپلټئ
### (۱ برخه)

متی ۲۸: ۱۶-۲۰ عیسی خپلو شاګردانو ته ځینو ورستیو خبرو ته اشاره کړې ده، د هغه دا وینا په لوی ماموریت مشهوره ده. عیسی خپلو شاګردانو ته، دا د لومړیتوبونو او هغوی ته د سپارل شوي کار تر منځ روښانه اړیکه رامنځ ته کړې ده.

- متی ۲۸: ۱۶-۲۰ ولولئ.
- عیسی د کوم صلاحیت څخه برخمن دی؟ ولې دا صلاحیت د اهمیت وړ دی؟
- هغه ځانګړې دنده چې عیسی خپلو شاګردانو ته ورکړې ده، څه ده؟
- عیسی په پایله کې څه وعده ورکوي، ولې دا ژمنه زمونږ دپاره مهمه ده؟
- تاسو د یو شاګرد په توګه، په دې ماموریت کې خپله ونډه څنګه کولای شئ سرته ورسوئ؟

### اصلي مفکوره

مونږ ټولو ته بلنه راکړل شوې ده چې هم شاګرد شو او هم شاګرد وروزو. دا په دې معنی چې، په دوامداره توګه دا زده کړو چې څنګه له عیسی څخه پیروي وکړو او د هغه په ماموریت کې د عمر تر پایه شریک واوسو، همدارنګه باید د نورو سره مرسته وکړو تر څو هغوی هم همدا کار وکړي

د شاګرد روزنه یوازې د چوپان او معلم نه، بلکه د هر ایماندرا دنده ده. زمونږ د ډېرو دپاره ننګونه دا ده چې فکر کوو د نورو نه د شاګرد روزنې یا د شاګردجوړونې دپاره پوره صلاحیت نه لرو. شاید احساس مو دا وي چې اړینه ده لومړی مونږ په خپله باید ډېره وده کړې وي. د عیسی لومړي شاګردانو هم همدا شان احساس درلود. حتی کله چې عیسی دا وینا هغوی ته کوله هغوی ټول د قوي ایمان څخه برخمن نه وو.
حتی ځینې د هغو نه شک هم درلود (متی ۲۸: ۱۷)
خو عیسی زمونږ سره ژمنه کړې ده چې له مونږ سره به وي او د هغه کار د سرته رسولو دپاره چې مونږ ته بلنه راکړل شوې ده، هغه به مونږ ته قدرت راکړي.
د شاګردانو روزنه یوازې دا ډول پیلیږي چې هغه شیان چې د نورو نه زده کوو په کډه یې شریکوو، تر څو وکولای شو د عیسی د شاګردانو په توګه وده وکړو.

### بحث او خبرې

یوځل بیا په خپل سفر باندې تر دې شېبې غور وکړئ:

- د هغو کارونو په هکله چې خدای ستاسو په ژوند کې سرته رسولي، کوم شیان مو له نورو سره شریک کړي دي؟

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

- ځنګه کولای شئ یو کس د عیسی پیروی ته وهڅوئ او نور هم د هغه په شان شئ؟
- د کومي لارې د بل چا سره عیسی ته په پیروي کولو کې مرسته کول، له تاسو سره هم مرسته کوي ترڅو د یو شاګرد په توګه وده وکړئ؟

## کلمه ویلټئ
## (دوهمه برخه)

کله چې عیسی مونږ ته بلنه راکوي چې شاګرد شو او شاګرد وروزو، په حقیقت کې هغه مونږ په یوه نقشه کې داخلوي چې خدای د خلقت له پیل نه په ټوله نړۍ کې د هغه په سرته رسولو کې بوخت ؤ.
پیدایښت ۱۲: ۱ -۳ ولولئ.

- خدای غواړي څوک د ابرام له لارې برکت ترلاسه کړي؟

خدای د ابراهیم سره دا وعده په پیدایښت ۱۸: ۱۸ کې تکراروي. بیا همدا وعده د اسحاق او یعقوب سره په پیدایښت ۲۶: ۴ او ۲۸: ۱۴ کې.

- دا مونږ ته د خدای په هکله څه ښيي؟

اشعیا ۴۹: ۶

- خدای قصد لري خپله ژغورنه کوم ځای ته ورسوي؟

پولوس د رسولانو عملونو ۱۳: ۴۷ کې د اشعیا ځخه ورته عبارت تکراروي.

- دا زمونږ لپاره د عیسی د پیروانو په توګه څه معنی لري؟

## همدا اوس په ګډه تمرین وکړئ.

په حقیقت کې مونږ ته لویه وعده راکړل شوي ده. کله چې مونږ د عیسی له فرمان څخه پیروي کوو او کله چې انجیل له نورو سره شریکوو، عیسی له مونږ سره دی او مونږ ته د روح القدس له لارې قوت راکوي.
مونږ له ډیرو لارو کولای شو نور کسان د عیسی د پیروي کولو دپاره حمایت او وهڅوو. یوه ساده لاره د دې کار د کولو دپاره د سفر له پلانه ګټه اخیستل دي. په دې دلیل چې سفر دا ډول پلان شوی دی چې هر ایماندار به د دې وړتیا ولري چې نور کسان شاګرد روزني یا شاګرد جوړوني ته وهڅوي. په نظر کې مو وي چې هر یو له تاسو ځنګه کولای په دې لوی ماموریت کې خپله ونډه سرته ورسوي او وروسته د سفر د پای ته رسېدلو نه یو بل کس د شاګرد په توګه وروزي.

- په هغو کسانو باندې فکر وکړئ چې امکان لري وکولای شئ سفر د هغوی سره پیل کړئ. هغه کس چې نوی یې په مسیح باندې ایمان راوړی دی او یا هغه څوک چې غواړي د شاګرد په روزنه کې ژوره وده وکړي.

د دې کسانو نومونه ولیکئ (که څوک ستاسو ذهن ته راځي، په هغو کسانو باندې فکر وکړئ چې غواړي د هغوی سره د عیسی په هکله خبرې وکړئ.)

- د هغوی د هر یوه د نوم په اخیستلو دعا وکړئ او له ښتنه وغواړئ، ترڅو له هغوی سره مرسته وکړي چې د عیسی په شاګردۍ کې وده وکړي.
- له خدایه وغواړئ چې یو څوک ستاسو په لاس درکړي چې وکولای شئ له هغه سره مرسته وکړئ ترڅو د مسیح شاګرد شي. همدارنګه په دې خاطر چې د دې کار د سرته رسولو دپاره یې خپل قدرت تاسو ته درکړی دی او وعده یې کړې ده چې د دې لوی ماموریت د عملي کولو په خاطر له تاسو سره دی، نو له هغه نه مننه وکړئ.

## هره ورځ خپل تمرین تکرار کړئ.

- د هغو کسانو دپاره چې مو لیکلي دي، ورځنی دعا وکړئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

- له خدایه وغواړئ چې تاسو تیار کړي او لاره ستاسو دپاره خلاصه کړي، ترڅو هغه ځوک چې د سفر نقشه کاروي یوه نوې دوره پیل کړئ.
- د کلیسا د مشرانو سره خبرې وکړئ او له هغوی نه وغواړئ کله چې خپل رول د لوی ماموریت په پلي کولو کې عملي کوئ، تاسو ته دعا وکړي.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved